AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۵/۱۲/۲۶

# راځه د خولې مړی به سره نیمه کړو جانانه

نور مه غواړه جانانه اجازه له پېښوه
ټول واک يې د مغلو دی راځه له پېښوره

دا خړه خاوره ستا د پاکو پلونو په ارمان ده
خبرې ډېرې بدې دي تازه له پېښوره

اوس واړه ګلخانان دي د رامداد کیسې زړې شوې
د ننګ ده پورته شوې جنازه له پېښوره

منظور سره ښه کلکه خدای پامانی وکړه او راشه
ورځو چې پر اټک شوه دروازه؛ له پېښوره

د ګلو ګېډی کېږده په زیارت د ګیله من
ده ماته د خوښیو شېرازه له پېښوره

راځه د خولې مړی به سره نیمه کړو جانانه
باوره د قحطۍ ده آوازه له پېښوره





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ